# پښتانۀ ، رومان او ټپه

# Pashtun, Romanticism and Tappa

Dr Noor Mohammad Danish Bettani★

**ABSTRACT**

Pashto Tappa has remained a preservative for the Pukhtoon life since ages.Tappa has covered almost every aspect of the Pashtoon culture and history. It is said that mere by collecting and studying Pashto Tappa the history of Pashtoons can be written.

It is also called the mother of Pashto Folk Poetry .The relation between Pashto Tappa and Pashtun society has been traced back centuries ago. In this paper romantic aspect of Pashtun in the light of Tappa has been discussed. Most part of this very culture is consisted of, romanticism in Pashtun Society before writing culture took place.

From this research work the readers and scholars of Pashto folk lore and literature will be benefited directly and will prove a guide line and a source of reference for the researchers in future.

پښتون يو ژوندے او مينه ناک قام دے ـ د مينې او محبت هر انداز نه خبر دے ـ په مينه کولو هم پوهېږي او په مينه ورکولو هم پوهېږي ـ وړاندې له دې چې مونږ پښتني رومانونو باندې تفصيلي بحث اوکړو دا اوګورو چې رومانيت څۀ ته وائي ـ پروفېسر عارف نسيم د رومانيت په حقله ليکي :-

,, د رومان لفظ د يو خاص قسم افسانوي ادب نه چې په فرانس کښې ډېر مقبول ؤ پيدا شۀ دا ادب رومانسز بللے شو ـ په دې کښې ناولونه زيات مقبول وو ـ له دې کبله هغه ادب ته چې دا خاصيتونه لري روماني ادب وائي[۱] ،،

ډاکټر انور سديد صېب د رومانيت باره کښې داسې رائې لري :-

★ Assistant prof Pashto Academy University of Peshawar

'' چنانچہ رومانیت اس کیفیت کو پالینے کا نام ہے. جب انسان کا مادی وجود ہمہ تن جذبے میں تحلیل ہو کر جسم کو پر لگادیتا ہے [۲]''

ترجمه :- ځکه نو رومانیت ددې کېفیت د موندو نوم دے چې د بنیادم مادي بوتۍ تول په تبوله په جذبې کښې د حل کېدو سره وجود ته وزرې لګوي.

اردو انسائیکلوپیډیا د رومانیت تعریف داسې کوي :-

'' رومانیت (Romanticism) ایک ثقافتی تحریک جس کا آغاز اٹھارویں صدی کے نصف آخر میں یورپ میں ہوا. یہ دراصل (Classicism) (یونانی ولاطینی ادب و فن کی تقلید) کی روایت، ہیت اور مذاق کے خلاف بغاوت تھی. اس میں تخیل کو منطق پر ترجیح دی جاتی ہے اور فنون کی کلاسیکی مثالوں کی غیر مبہم وضاحت اور مکمل ہیت سے انحراف کیا جاتا ہے. عشق و محبت، غم و غصہ اور دیگر بنیادی جذبات تمام فن پاروں کے موضوع ہوتے ہیں. لیکن رومانیت پسند فن کاروں کی تخلیقات میں ان جذبات کی انتہائی شدت ہوتی ہے [۳]''

ترجمه :- رومانیت یو ثقافتي تحریک چې پیلات ئې اتلسمې صدۍ د نیمایۍ په پائې کښې په یورپ کښې وشو. دا په اصل کښې (Classicism) د یونانۍ و لاطینۍ د ادب او فن پېروي، د روایت، هئیت او ټوقو ټقالو په خلاف بغاوت ؤ. په دې کښې تخیل ته په منطق باندې زور ورکولے شي. او د فنونو د کلاسیکل نمونو د غېر مبهم څرګندونې او مکمل هئیت نه مخ اړولے شي. د عشق و محبت، غم او غصې او نورو بنستي جذبې ددې همه فنپارو سر لیکونه وي. خو رومانیت خوښو فنکارانو په لیکنو کښې ددې جذبو تندوالے وي.

خواجه محمد سائل په خپل کتاب رومانویت او عبدالحمید بابا کښې لیکي :-

,, چې یو انسان د خپل ذات، د جذبات شدت د فطرت رنګین عکسونو په رڼا کښې محسوس کړي او محض جذبات نه مغلوب نۀ شي. نو دغه رومانیت دے د کومو شاعرانو په کلام

کښې چې تصوف وحدت الوجود ، وحدت الشهود ، پند و نصیحت یا قومیت د جذبات شدت ځخه بیان وي نو مونږ هغوي د صوفي یا قومي شاعر په حېث پېژنو او که د عشق و محبت د اندروني کېفیت دغه سرېکې او درد نه ډکې نغمې او اشعار د فطرت په رنګونو رنګین حسن و جمال متعلق وي نو مونږ ورته رومانوي شاعر وایو [۴]،،

رومانیت ادب ته څنګه راغلو دې باره کښې ډاکټرانور سدید لیکي :-

*'' رومانیت کا تعلق چونکہ شعور کی بجائے لاشعور سے ہے. اس لیے یہ ایک بے حد پیچیدہ نفسیاتی کیفیت ہے اب تک اس کے متعدد زاویے سامنے آچکے ہیں. لیکن کوئی جامع تعریف مرتب نہیں ہوسکی . لوگان پیرسل سمتھ (Logan pearcel) کے مطابق یہ لفظ وارٹن (Warton) اور ہرڈر (Herder) نے پہلی مرتبہ ادبیات میں استعمال کیا. گوئٹے اور شیلر نے اس کا اطلاق ادب پر کیا [۵]''*

ترجمه :- د رومانیت تعلق چونکه د شعور په ځائے لاشعور سره دے ځکه دا یو ډېر ګران نفسیاتي کېفیت دے ـ اوسه پورې ددې ډېرې زاویې مخې ته راغلي دي ـ خو څۀ جامع تعریف ئې نۀ دے پېش کړے شوے ـ لوګان پیرسل سمتھ (Logan pearcel Smith) په اول ځل په ادبیاتو کښې استعمال کړو ـ ګوئټے او شیلر ددې اطلاق په ادب وکړو ـ

په دنیا چې سرے نظر واچوي نو پخپله د انسان په ذهن د پښتون وګړي د نوم سره یو روماني سیرې هم برېښ وکړي ـ هغه ځکه چې پښتانۀ خپل ذات او کردار کښې تقریباً چې په هر کار کښې د رومان ښکلاګانو ته ډېر ورنږدې دي ـ دغه رومان خو کله د سرېتوب او سپېځلتوب په جامه کښې رانغښتے ښکاري ـ او کله لکه د جبر او تشدد په اور کښې تر هغه لویو لمبو او غرغنډو ورتلل او تېربدل وي چې انسانان ځان ته نۀ یوازې حیران کړي بلکه د رومان د یو عجیبه شان انګازو سره ئې مخامخ کړي ـ

مرحوم خیال بخاري لیکي چې :-

"پښتون اګرچې فطرتاً يو جفاکش ، بهادر ، تورزن او جنګيالے قام دے ـ او ټول عمر ئې په جنګ جګړو مرګ او ژوبلې ، دشمنۍ او تربګنۍ کښې تېرېږي ولې سره ددې هم په دې کلکه او مضبوط سينه کښې يو نرم او ګداز زړۀ لري ـ که يو خوا ئې په جنګريز کښې د وينو سيلابونه ، د مړو انبارونه ، د ويشتلو چغې او د زخميانو فريادونه په زړۀ يو بخړے اثر نۀ کوي ـ نو بل خوا د حُسن يو معمولي شان پلوشه ئې هم د زړۀ په دنيا کښې زلزله راولي ـ دے فطرتًا يو روماني او مينه ور زړۀ لري ـ په دې خاوره هسې خو هره پېغله او زلمے د مينې يو داستان دے ـ ولې ځنې واقعې پکښې داسې هم پېښې شوې دي ـ چې هره يوه پکښې د پنجاب د سوهني مهيوال ، د ايران د خسرو شيرين او عربو د ليلی مجنون جواب ده[۲] "

د پښتون هر کار تقريباً چې د رومان په جامه کښې رانغښتے وي ـ هغه که د عام ناستې پاستې خبره وي که د تورې ، ټوپک ، جرګې ، معرکې خبرې وي ـ او که د غم ساندې يا د وادۀ ښادۍ سندرې ، د تمبل او سپينو ليچو په پړقار کښې يا د پښتنو زلمو د جنګ ميدان ته د اتڼ او تورو په شرنګار کښې تلل وي ـ خو بس خبره دا ده چې پښتانۀ په هر کار کښې انتها خوښونکي خلق دي ـ هغه که د خېر کار وي که د شر ـ خو هغه د غني خان خبره د منځ لار پکښې نۀ خوښوي ـ په مينه کښې هم ـ

د زړۀ وطـــن کښــــې د ســـر لاره نشـــته
د فکــر تـــول لکـــه بهلـــول بـــه څـــۀ کـــئ

د يـــار حســـاب لـــه خپلـــه يـــاره نشـــته
سپوږمۍ مسکۍ شوه وې دا تـول د څۀ کړې

مينـــه کښــې مـــړه څـــوک تلـــل نـــۀ کـــوي
خانـده سپرلي کښـې خونـد ژړل نـۀ کـوي [۷]

دغـه نخښـې نخښـانې د پښـتون کـردار پښـتو ټپې پخپـل ځـان کښـې داسې په فنکارانه انداز سنبهال ساتلې دي ـ چې په هر وخت کښې د پښتون جوړولو او يادولو سوب ګرځي ـ

د پښتو رومانوي کردارونو باره کښې پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهين د روهي سندرې دوېم جلد کښې ليکي :-

'' د پښتو روماني کردارونه په ټوله پښتونخوا کښې عمومي مقبوليت لري ـ دا مقبوليت د پخوا راسې هم دغسې را روان دے ـ ځکه ئې په اولسي سندرو کښې هم په خوند خوند ذکر کولے شي ـ ددې قسمه ډېرې ټپې دي چې پکښې د رامداد خان ، مؤمين خان شيريني ، بخت منير ، ادم خان درخانۍ او يوسف خان شيربانو يادګيرنه شوې ده ـ دا زمونږ د معاشرتي ژوند په مختلفو اړخونو رڼا اچوي [۸]''

ټوپک ګرځول د پښتنو د ژوند يو اهم عُنصر وۀ ـ او ددغه شوق او ذوق لپاره به پښتنو زلمو خپل ټوپک توره د ځان کالي ګڼل ـ ښۀ ښکلے ټوپک ساتل او ګرځول د دوئي د قبائلي ژوند يو ښکلې او روماني مشغله ده ـ دغې مشغلې ته چې د يوې پښتنې پېغلې نظر شي ـ نو دا رومان ئې د رومان اخري حدونو ته د ټپې په زور داسې رسولے دے ـ

ستا د بورې ټوپک نه ځار شم
په اوږه ستا دے کړه زۀ د خيال ځمه [۹]

پروفېسر محمد نواز طائر په ټپه او ژوند کښې ليکي :

'' پښتون فطرتاً د ډېرحساس طبيعت خاوند واقع شوے دے ـ دے ډېر جذباتي او بې کچه زود رنج هم دے ـ ځکه خو ددۀ خوښي او ناخوښي هم بسا اوقات انتهائي درجې ته رسېږي ـ دا کېفيت د حسن د طلب په معامله کښې په خصوصيت سره زيات څرګند ښکاري ـ د پښتون د عشق بې شماره قيصې ددۀ د سرې وينې په سرخۍ ليکلې شوې دي ـ دا سرخي د ليلیٰ د خال قيمت ګڼلے شي ـ دغه ليلیٰ د پښتون اولس د هر پياوړي

زلمي د ژوند ارمان وي ـ دې هره قرباني د هغې د خاطره کول خپل افتخار ګڼي ـ ليلى د حسن ميره ده هغه ددۀ د خيالونو دنيا او د ژوند محور دے ـ دې هغې ته په کوم نظر ګوري او د هغې دپاره څۀ قسم جذبات لري ـ دا جذبات په بې شماره ټپو او ستائينو کښې په بې شماره رنګونو کښې څرګند کړے شوي دي ـ خو په دې ټولو رنګونو کښې په هر نوم چې ياده شوې ده هغه معشوقه ده ـ چې ليلو ، ليلى او شاه ليلى بللې شي ـ دا نومونه د مينې نمائنده ګرځېدلي دي ـ درخانۍ ، ګل مکۍ ، رابيا ګله ، اومۍ ، شهۍ او شېربانو ټولې د دوئي نه سازې شوې دي ۱۰"

پټکے وهل يا تړل هم د پښتون ثقافت يو اهم جُز دے ـ پښتانۀ زلمي او مشران دواړه په پټکي او شمله مئين خلق دي ـ دغه پټکي ته چې د يوې پښتنې تور سرې خيال شي ـ نو هم د پردي وطن خبره ئې پکښې کړې ده ـ بلکه په ښائست ئې ښائستونه انبار کړي هم دي ـ

پـــــټکے پـــــه مـــــنځ د وروځـــــو کيــــږده
پــردے وطــن دے چــې ډاډه درسـره څمــه[11]

او د زلمو سرتور سر ګرځېدل هم پښتانۀ د خپل دود دستور خلاف کار ګڼي ـ نو پښتنې پېغلې چې په يو سرتور سر زلمي طنز کوي نو هم پښتون کردار او د پښتنې محبوبې ارمان ئې پکښې په ګوته کړے دے ـ

مـــــا دې ټـــــوپۍ پـــــه ســـــر ګنډلــــــه
د جينکـــو پـــه وار پيـــدا ورکـــه دې کړمـــه

د وطن سره مينه او په خپله خاوره ننګ کول هم د پښتون وجود جامه ده ـ ځکه د يوې پښتنې پېغلې د خولې نه دغه روماني جذبې ته داسې څۀ روماني مصرعې راوتي دي ـ

ځوانـــانو مـــرګ پـــه ځـــان قبـــول کـــړو
پېغلې رنډې شه چې کوتـون نۀ قبلوينه[12]

کــــه د وطــــن پــــه ننــــګ شـــــهيد شـــوې
پــه تــور وربــل بــه دې مــزار جــارو کومــه

او پـه تېـره تېـره دا ټپـه چې د پښـتون ثقافت او ذهنيت پـوره پـوره فلسـفه ئې پکښې رانغښتې ده۔

ټـــوټې ټـــوټې پـــه تـــورو راشــــې
چـــې پرهرونـــه دې ګنـــډم خولـــه درکومـــه[۱۳]

پـــه هندوســـتان دې ځلـــے جـــوړ شـــه
د بـــې ننګـــۍ اواز دې رامـــۀ شـــه مئينـــه[۱۴]

او چې کله په پښتون کردار د داغ لګولو وخت راشي نو خپـل لالي تـه داسې د طنز په ژبه وائي۔

جنـــګ خـــو د کلـــي مـــنځ تـــه راغـــے
نــامرده پورتــه شــه چــې مــلا دې وتړمــه[۱۵]

پـــه ســـپين ميـــدان بـــه درســـره يـــم
زۀ پښـــتنه د تـــورو نـــه تښـــتم مئينـــه[۱۶]

د پښـتو ټپې د پښـتنو د معاشرې دومره پـه ښـکلې او مفصله طريقـه احاطه کړې ده ۔ هر اړخ ئې نۀ يوازې راخستے بلکه په دغه اړخونو کښې د خپـل ذاتي روماني توکو سره يو خپـل د تخيـل او کـلام رومـان پـه داسې خوند رنـګ ځائے کـړے دے چې انسـان ځان تـه ګوتـه پـه غـاښ اودروي ۔ بلکـه هـر سـړے د ځان عاشق او مئين کړي لکه دا ټپه :-

خاونـــده ټولـــه مـــې تـــرې ځـــار کـــړې
د يـــار د کلـــي مېلمانـــۀ راغلـــي دينـــه[۱۷]

او په دغه موقعه که د طنز خبره کوي نو هم د پښـتو اولسي لهجه نـۀ يـــوازې وائي بـلـکه پـــه يو ښکلې طريقه دا د مطلب خـبره هـم د خولې نه را اوباسي۔

حجـــره د تـــول کلـــي د ســـره
پـه نیمـه شـپه کورتـه زمـا جانـان راځینـه

د رومان او ټپې په حواله داسې ټپې د پښتنو زلمو او پېغلو د خولې نه وتې دي چې د نازک خیالۍ او د رومان حدونه ئې کراس کړي دي ـلکه دا ټپې چې :-

جانـــان پـــه ټوقـــو نـــهٔ پـــوهېږي
مـا پـه خـورو زلفـو واهـهٔ مـرور شـونه[۱۸]

زمـــا پـــه تاپســـې رنـــګ زیـــړ شـــو
خلقـــو تـــه وایـــم ثـــوابي روژې لرمـــه

جانانـــه جګـــه درتـــه نـــهٔ شـــوم
د پښـــو مـــې لانـــدې شـــو د زلفـــو تنابونـــه

پېغلتـــوب نیمـــه باچـــاهي ده
ورک ناویتوب شه چې دوه نیمې ورځې وینه

جانانـــه بـــد مـــې اموختـــه کـــړې
چـې خولـه درنکـړم مـرور ګرځـې مئینـه

داسې د پښتنو پېغلو متعلق دا هم مشهوره ده چې غمونه ټول پخپل زړهٔ تیره وي ـ خو د خولې نه اُف قدر وېستلے نشي لکه دا ټپه ـ

هلـــک مئـین شـــي وطـــن پرېـــږدي
جینـۍ مئینـه شـي مـخ پـټ کـړي اوژاړینـه

خو دا هم حقیقت دے چې زړهٔ را ډک شي نو ایساریدلے هم نشي ـ نو ځکه د یو پښتنې د خولې نه بې اختیاره دا رومان د اور لمبه هم د خولې را اووتې ده :-

جانـــان پـــه زيـــن کښـــې راتـــه کـــوز شـــو
د پښـــو څـــوکې لګـــوم خولـــه وړکومـــه[۱۹]

غـرض دا چې ټپـه او پښـتنه معاشره ورسره د زنانوؤ د فکر او اظهـار وسيله ده او دا يو ښکاره حقيقت د ے کـه پـه هر رنګ او ترنګ کښې وي۔خو دواړه د يو بل نه نۀ جدا کېدونکے وجود د ے ۔هره موضوع ئې دومره رومـانې کړې ده چې وګړے په سوچ مجبوره کړي لکه دا ټپې :

د نيمـــــــې شـــــــپې پـــــــه خـــــــوب اودۀ ووم
چـا ځـواني مـرګ ټپـه کـړه پورتـه ويښ ئـې کړمـه[۲۰]

دا نيمــــــه شــــــپه تــــــوره تيــــــاره ده
بنګـــړو لــــه شـــرنګ ورکــــه چــــې اودې پېژنمــــه

پښـتنې رومانونـه ځـان تـه جدا مقـام لـري ۔پښـتون کـه يـو طـرف تـه جنګيـالے ، بهـادر، توريـالے پـه خپلـه خـاوره مئين قـام د ے ۔ټول عمر ئې پـه جنګونو ، تربګنئ ، مرګونو او دشمنو کښې تېر کړے د ے ۔نو بـل طرف تـه د مينې ، محبت ، حسن او عشـق ښکلي او بې مثالـه رومانونـه هم لـري ۔هر پښتون زلمے او پيغله د مينې ، محبت ډک زړۀ لري۔بعض خوپکښې داسې تېر شوي دي چې دمينې په ميدان کښې ئې خپل سرونه په تلي کښې ايښي دي۔ پښتني رومانونه باره کښې فصيح الرحمان ليکي :-

'' د پښتو رومانونه په فرق دي ۔او په روماني دنياکښې ځان لـه يـو خـاص مقـام لـري ۔پـه دې کښـې د پښـتون قـام د مخصـوص کېفيت بيان د ے ۔او د پښتنو روحيات ، افکار ، رسم و رواج ، ملي دودونه پکښې ښکاره دي ۔په دې کښې کـه يـو طرف تـه د مړانې ازمېښتونه دي نو بل طرف ته د عشق ملغلرې دي ۔کـه يو اړخ تـه د معاشرې پابندئ او بنديزونه دي ۔نو بـل اړخـه تـه جوش د ے ولـولې دي ۔د احساساتو شدت او د جذباتو سـور انګار د ے ۔که يو پلـه دې کښـې خواهشـونه دي ، ارمانونه دي

،او ناقراري دي نو بل پله امید سره ناکامي او بزم سره رزم
ترلې دے[۲۱]،،

دغسې په هره موضوع پښتو ټپې د پښتون وجود خلقو دومره په رومانې طرز کښې وړاندې کړے دے چې د حقیقت نه هم وړپسې ور اخوا شوي دي ۔ پښتانهٔ د روماني کېفیاتو سره په هر کار کښې تعلق لري خو دغه قیصې ټپې په بیل جدا رنګ کښې رانغښتي دي لکه دا چې :-

داسې نـرۍ ئې لکـه لښـتـه
مـور دې ړنده شـه چې پـه تـا اوبـهٔ راؤړينـه

د پښتنو په ژوند کښې ګودر او مازيګر ډېر لوئے اهمیت لري ۔ ګودر که د پېغلو لپاره د سیل او د خپلو همزولو سره د ملاویدو یوه ذریعه ده نو مازیګر د زلمو دپاره هم د غم غلطولو یوه لويه وسیله هم وي ۔ په دغه بابله دا د روماني جذبې او رومانیت د لمحو یو دلفریب وخت هم وي ۔ په دې موضوع هم ټپې خپل شاعرانه کمالات ښکاره کړي او د پښتنو رومان او رومانیت ئې خلقو ته په ډاګه کړے دے ۔ لکه دا ټپې :-

بیـا پـه ګـودر کښـې شـور ماشـور دے
د پیغلـو جنـګ شـو پـه منګـو ویشـتل کوینـه

ګـودر تـه ځـم راپسـې راشـه
منګـي مـې دوه دي نـرې مـلا مـې ماتوینـه

مـازیګرے دے خیـرې مـهٔ کـړه
تـهٔ بـه دناز خیـرې کـوې ربـتیا بـه شـینه[۲۲]

دا مـازيګر چـې څنګـه تېـر شـو
داسـې بـه تېـره شـي دا سـتا لیـونۍ مینـه

د پښتنو په بعضو علاقو کښې اوس هم زنانه د پټي او زمیندارۍ کار کوي۔ د سرو سره سمې ښځې لګیا وي۔ خپل فصل او ډنګر ساتي یا ډوډۍ چائې خو وریسې خامخا وړي۔ دغه هم پخپل ځان کښې یو روماني کېفیت او نظاره وي او د پښتنې پېغلې لاړے چې لو کوي نو هغې نه د بادشاهانو تختونه داسې لوګے کوي۔

باچـــائي تخـــت مـــې پکـــار نـــۀ دے
جانـــان بـــه لـــو کـــړي زۀ بـــه ورېي ټولومـــه[۲۳]

خو پښتون عاشق چې کله خپله پښتنه پېغله اووینې چې ورېي راټولوي نو د خپلو روماني جذباتو اظهار په ټپې کښې دا رنګ کوي۔

مانـــــه دې څټـــــه دانـــــې واخلـــــې
پـــــه لېـــونۍ دې ورېي نـــۀ راټولوینـــــه

ددغې سره سره پښتنې پیغلې په کورونو کښې د کور خاوندانو سره سره د اوړو لپاره میچنې هم کوي۔ او دغه ځانته د شعور او سوچ د خاوندانو لپاره د ګل او بلبل نه زیاته د خوند رنګ خبره ده۔ او دا هر څۀ د غریبانو خلقو زنانه کوي۔ دغسې یوې غریبې پېغلې د خپل یار د زړۀ لپاره وئیلي دي۔

نیســـــتي پېغـــــور نـــــه ده جانانـــــه
زۀ د چـرګ بانـګ میچنـه سـتا دپـاره کړمـه

او چې کله محبوب دخپلې محبوبې نه مطمئن وي نو هغه هم خپلې محبوبې نه داسې ځارېږي۔

راشـــه پـــه زړۀ مـــې ګـــوتې کېـــږده
یـاره پـه تـادي کـه پـه مـا دي ډېـر غمونـه

د عشق جذبه هم په وجود عجیبه لوبې کوونکې د خپل دست او وس نه بهر خبره وي انسان داسې خود غرضه کړي چې د دنیا د نام و ننګ نه ئې پسې ورتېر کړي۔ خو بیا هم چې په لاس څۀ ورنشي نو عاشق پخپل زړۀ او ځان هم خفه او ستومانه شي۔ ځکه چې مقصود هم په لاس نۀ ورځي او صبر هم ترې نۀ کېږي۔

نـــه مـــې ديـــدن شـــي نـــه مـــې صـــبر
پـــه غـــم لړلـــې يـــارانې ســـترې دې کړمـــه

او په دغه نااميدئ او بې قرارئ کله کله خبرې ګډې وډې هم لاړې شي ـ

خبـــــرې ګـــــډې وډې اوشـــــوې
جانانـه خپـل غـم دې کـوه خپـل بـه کومـه[۲۴]

خو کله چې يو عاشق خپلې معشوقې ته داسې ګډې وډې خبرې وکړي نو معشوقه خپل لالي ته داسې وائي ـ

جانانـــه بـــد مـــې اموختـــه کـــړې
چې خولـه درنـۀ کـړم مـرور ګرځـې مئينـه[۲۵]

په خولې که يو بل ته هر څۀ هم اووائي ـ ګډې وډې خبرې اوکړي ـ خو پټ په زړۀ کښې وائي :

پـــه خولـــه پـــه جنـــګ درســـره وکـــړم
پـــه زړۀ کښـــې پټـــه بـــه دعـــا درتـــه کومـــه

او چې کله دواړه يو بل نه مرور شي او د پخلا کولوئې څوک نۀ وي ـ نو معشوقه د خپل لالي نه دواړه لاسونه داسې تاؤ کوي ـ

جانانـــه راشـــه چـــې پُخـــلا شـــو
لاس بـه تـر غـاړې درکـؤم سـېل لـه بـه ځونـه

غرض دا چې پښتو ټپه کومه چې په رښتيا د پښتنو مشرانو ، ښځو او سړو د خولې نه وتې دي ـ هغه په خپل ذات کښې ۹۸ فيصد روماني دي ـ ځکه چې دغه د صفا زړونو ، ذهنونو ، د کلي وال ماحول ، د صفا ژبې او د انسان د خپل عمل تجربو نچوړ وي ـ نو هغه د چا خبره چې د اووۀ ژرندو راؤځي نو هغه پخپله خپل مثال وي ـ ددې ټولو خبرو او مثالونو نه پس به اوس دا موضوع يعني پښتنائۀ ، رومان او ټپه په دې ټپه راغونډه کړو چې :-

کـــه تـــوره يـــم تابـــه رنځـــور کـــړم
د يـــارانې اثـــر پـــه ســـترګو کښـــې لرمـــه[۲۶]

# حوالې

[۱] نسیم عارف پروفېسر ډاکټر ، ادبي تنقید ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور ، جون ۲۰۰۷ء ، مخ ۸۸

[۲] انور سدید ڈاکٹر، اردو ادب کی تحریکیں، کراچی ، انجمن ترقی اردو پاکستان، اشاعت پنجم، ۲۰۰۴ء مخ ۸۲

[۳] اردو انسائیکلو پیډیا ، لاهور ، فیروز سنز لاهور ، ۱۹۲۸ء مخ

[۴] سائل خواجه محمد ، رومانیت او عبدالحمید بابا ، فائن ارټ پرنټنګ ایجنسي لاهور ، بار اول ستمبر ۱۹۹۴ء مخونه ۷۲ ، ۷۷

[۵] انور سدید ڈاکٹر، اردو ادب کی تحریکیں، کراچی ، انجمن ترقی اردو پاکستان، اشاعت پنجم، ۲۰۰۴ء مخ ۸۲

[۶] خټک صدر خان ، دلے شهی (مقدمه خیال بخاري) پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، د چاپ کال نۀ لري ، مخ ۳۳

[۷] غني خان ، لټون ، پېښور یونیورسټي بک ایجنسي ، خیبر بازار پېښور ، ستمبر ۲۰۰۵ء ، مخ ۳۹۹

[۸] سلمیٰ شاهین ، روهي سندرې ، دوېم جلد ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور ، ۱۹۹۴ء ، مخ ۲۵

[۹] همدغه مخ ۳۴

[۱۰] طائر محمد نواز پروفېسر ، ټپه او ژوند ، پېښور ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، ۱۹۸۰ء مخونه ۲۵۰ ، ۲۵۱

[۱۱] سلمیٰ شاهین ، روهي سندرې ، دوېم جلد ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور، ۱۹۹۴ء ، مخ ۲۱

[۱۲] همدغه مخ ۲۲

[13] سلمیٰ شاهین ، روهي سندرې اول جلد ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور ، ۱۹۸۴ء مخ ۱۷۸

[14] هـــمـــدغـــه مخ ۱۵۴

[15] جنز انوالډسن ,,سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه ، ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ، ۱۹۸۷ء ، مخ ۶۲

[16] طائر محمد نواز پروفېسر ، ټپه او ژوند ، پېښور ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ۱۹۸۰ء ، مخ ۸۰

[17] سلمیٰ شاهین ، روهي سندرې ، دوېم جلد ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور ،۱۹۹۴ء مخ ۲۴۴

[18] داؤد داور خان پښتو ټپه ، دویم ایډیشن ، پېښور پریس نامعلوم ، ۱۹۸۴ء ، مخ ۱۲۲

[19] سلمیٰ شاهین ، روهي سندرې ، اول جلد پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور ، ۱۹۸۴ء ، مخ ۱۸۳

[20] طائر محمدنواز پروفېسر ، ټپه او ژوند ، پېښور ، پښتو اکېډیمي پېښوریونیورسټي، ۱۹۸۰ء ، مخ ۸

[21] مسیح الرحمان ،په پښتو کښې روماني داستانونه ، میاشتیزه ,, پښتو ، ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، فروري ۱۹۷۱ء مخ ۹

[22] سلمیٰ شاهین ، روهي سندرې ، اول جلد ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور ، ۱۹۸۴ء ، مخ ۵۹۰

[23] هـــمـــدغـــه مخ ۸۱

[24] هـــمـــدغـــه مخ ۲۴۷

[25] هـــمـــدغـــه مخ ۱۸۸

[26] هـــمـــدغـــه مخ ۵۴۳